## دبې لمانځه حشر

سه شنبه, 24 August 2010 07:01 ابوطيب

**په حديث شريف کښې راغلي دي**

**(مَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ تَكُنْ لَه نُوْرًا وَلَابُرْهَاناً وَلاَ نِجَاةً وَكَانَ يَ◌ومَ الْقِيٰمَةِ مَعَ قَارُوْنَ وَاُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ ) (مشكوة شريف )**

**ژباړه : کوم چاچي دلمانځه حفاظت ونه کړی (يعنی لمونځ يې ونه کړی نودهغه لپاره به په قيامت کي نه نور وي اونه به هم ورته دايمان دليل وي اونه به هم دهغه دنجات ذريعه وي اودهغه حشربه دفرعون اوهامان اودابی بن خلف سره وي داچي ولی به دبې لمانځه پاڅون له دغه سی چاسره کيږی،که چيري موږ فکروکړونوپه دنياکښي دمال دحاصلولولپاره څلورطريقې دي**

**(١) حکومت (٢) ماموريت (٣) تجارت (۴) صنعت حرفت ، داڅلورشيان داسي دي چي سړي په دې کښي اخته شي نودپيدائش مقصد ورڅخه هيريږي دفرعون تخت اوسلطنت وونوکه چيري يومسلمان داسلام درکن لمانځه څخه غافل شي نودهغه حشربه دفرعون سره وي ، هامان دفرعون وزيراوملازم وو، نوکه چيری يوڅوک دماموريت په وجه باندي په لمانځه کښي سستي کوي نودهغه حشربه دهامان سره وي**

**قارون دومره مالداره ووچي دهغه دخزانوکليانی به څوطاقت وروخلګوپورته کولې صاحب صنعت اوحرفت مسلمان که چيري دلمانځه څخه بې باکی کوی نودهغه حشربه دقارون سره وي ،ابي ابن خلف دمکې لوی تاجروو، که چيري يوتاجردتجارت په شوق وجه دلمانځه څخه غافل شي نودهغه حشربه دابي ابن خلف سره وي ،ځکه نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي کوم سړي چي په څه وجه باندي دلمانځه څخه غفلت وکړی نودهغه حشربه دهمداسي خلګوسره وي دخداي تعالی څخه مودعاده چي الله تعالی دهرچاحشردانبياء کرامو، صديقينو اوشهيدانوسره وکړي ، اودبدحشرڅخه دي الله موږاوټول مسلمانان وساتي آمين**

**په تفسيرروح البيان کښي دي چي په ورځ دقيامت به بې لمانځه خلګ په دنياکښي دلمونځ نه کولوپه وجه رنګ رنګ عذرونه کوي مګردهغوئ به هېڅ عذرنه شي قبول اوهغوئ به ودوزخ ته واستول شي**

**دبي لمانځه نارينهٔ ؤ پهٔ ښځه بې لمانځه ښځې هم عذرونه وکړی څوک به وايي چي زماميره ظالم وه وله همدې وجهي څخه مالمونځ نه شوکولای ، نوالله تعالی به د فرعون ماندينه بي بي آسيه رضی الله عنها راوغواړي او ورته وبه وايي ستاميره ډېرظالم اومالک وواوکه ددې ښځي ميره به دلمونځ کولوڅخه زيات راګرځونکی وو ، وګوره چي دادڅونه ظالم اومالک ميره ماندينه ده مګربياهم څونه عبادت ګذاره وه ، نوددې څخه وروسته به حکم وشي بې لمانځه ښځي و دوزخ ته واچوئ ، ددې حکم پرکولوباندي به هغه و دوزخ ته واچول شي لنډه خبرداده چي دلمانځه ډېرغټ فضيلتونه اوبرکتونه دي اودلمانځه په پرېښولوباندي ډېرسخت وعيداودعذاب ببره ده.**

**دعاده چي خداي تعالی دي په خپل رحمت سره هرنراوښځه مسلمان ښه اوپه زړهٔ پوري لمونځ کوونکی وګرځوي ځکه دقيامت په ورځ دکاميابی دار اومدارپه لمانځه پوری تړلی دی.**

**الله تعالی جل شانه فرمايي:**

**(قَدْاَفْلَحَ الْمُوءمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلٰوتِهِمْ خٰشِعُوْنَ)**

**ژباړه : ببله شکه هغه مسلمانان کاميابه دي کوم چي خپل لمونځونه په ښه خشوع اوخضوع سره ترسره کوي.**

دلمونځ کولوڅخه له مخه يومهمه وظيفه

ام رافع رضی الله عنه ته حضورصلی الله عليه وسلم وفرمايل چي اې ام رافع (رضی الله عنها) چي کله ته دلمونځ کولواراده وکړې نو(سبحان الله ) لس واره (الحمدلله ) لس واره او(لااله الاالله ) هم لس واره (استغفرالله ) لس واره ووايه چي کله ته سبحان الله وايي نوخداي تعالی وايي دازمالپاره دي ، اوچي کله ته الحمدلله ووايي نوخدای تعالی وايي دازمالپاره دی ، اوچي کله لااله الاالله ووايي نوخدای تعالی به ووايي چي داهم زمالپاره ده اوچي کله په اخری واربانډی استغفرالله ووايي نوخدای تعالی به ووايي چي ماستامغفرت وکړی ( ابن ماجه )

Share

## 1. په جماعت سره دلمونځ کولو فايدي

په جماعت سره دلمونځ کولوفايدي :
* په جماعت سره په پابندي لمونځ کول په دنيا او آخرت دواړو کښي ډيري فايدي لري چه ځني ددينه په راتلونکي ډول سره ذکرکيږي :
١) لمونځ په پابندي سره کول دا د نورو عملونو د قبليدلو لپاره بنيادي سبب دی .
٢) لمونځ بنده د منافيقانو صفتونو څخه بچ کوی .
٣) لمونځ کول به بنده په ورځ د قيامت کښي د فرعون ، قارون ، هامان او د أبي بن خلف سره ديوځاي راپاڅيدلو څخه بچ کړی .
٤) لمونځ اداء کول د سترګو لپاره يخوالی دی .
٥) لمونځ کول د زړه دخوشحالۍ ، قوي کيدلو، اود دي خلاصولو(پرانستلو) لپاره بنيادي سبب دی .
٦) لمونځ مسلمان د بي حيايي اود هرقسم ناکاره کارونو څخه منع کوی .
٧) د لمونځ په وجه په زړه کښي رڼا، او په مخ کښي سپين والی، په اندامونوکښي چُستي او حرکت پيدا کيږي ، دا د رزق پيداکولو لپاره لوي سبب دی ، د ظلم شهوتونو لپاره ختمونکی دی ، نعمتونه باقي ساتي، مصيبتونه لري کوي ، د رحمت لپاره نازلونکی دی ، هغه مرضونه چه په زړونوکښي د شُبهاتو او شهوتونو په وجه پيدا کيږي د هغي لپاره منع کونکی دی .
٨) لمونځ په نيکۍ اوپرهيزګاري او په حق وصيت او صبر کولو باندي مدد کونکی دی .
٩) لمونځ کول د مسلمانانو خپل مينځ کښي د يو بل سره د پيژندګلوي سبب دی ، ځوک چه لمونځ نه کوی هغه ته تيزي ورکونکی دی ، او ناپوهه ته تعليم ورکونکی دی .
١٠) د لمونځ کولو په وجه داسلام د شعائرو ښکاره والی کيږي ، او دا په وينا او عمل سره اسلام ته دعوت کوونکی دی .
١١) د لمونځ په وجه ددنيا اوآخرت شرونه او مصيبتونه د فع کيږي ، اود دنيا او

آخرت مصلحتونه راجلبوي ، اوبيا خاصکر چه د دي حق په ظاهري او باطني توګه سره اداء شي ، لمونځ کول د بنده اود الله تعالی په مینځ کښي د رابطي سبب دی ، د بنده د الله تعالی سره د رابطي د اندازي په وجه دهٔ ته د خیر کارونه راځي ، اود دي د اداء کولو په وجه شر او افتونه کميږي ، کله چه دوه کسانو ته یو مصیبت او یا یو مرض ورسيږي پدي دواړو کښي چه کوم یو لمونځ کوی نو مصربيت او شر پدي باندي کم وي او صحت مندي یی د هغه بل څخه زیاته وي .
۱۲) د لمونځ په وجه د سختوکارونو اسانتیا او برداش راځي ، کله چه تکلیفونه او مصیبتونه راشي نو بیا د خفګان په وجه زړونه مرو ته راورسيږي ، نو بیا رشتني خلک د لمونځ اهمیت پيژنی ، چه لمونځ وکړي نو بیا ښکلي او فایده منده نتیجه مرتبه شي .
۱۳) د لمونځ په وجه مسلمان ته د مصيبتونو اطمینان او تسلي حاصليږي .
۱٤) د لمونځ په وجه ګناهونه ختميږي ، درجي پري اوچتيږي ، نیکیاني پري زیاتيږي ، او الله تعالی ته پري نږدي کت حاصليږي .
۱۵) لمونځ د خایسته اخلاقو او ورین مخ لپاره بنیادي سبب دی .
۱٦) د لمونځ په وجه د انسان همت او نفسي حالت اوچتيږي او انسان د دُنیا ډيرمحبت څخه لري ساتي .
۱۷) لمونځ هغه روحاني مدد او معنوي توښه ده چه نه ختميږي اودهمیش لپاره باقي ده .
۱۸) لمونځ د ايماني وني لپاره لویه غذاء ده ، پدي باندي همیش والی د ایمان د ثابتیا اوزیادت سبب دی .
۱۹) په لمونځ باندي پابندي کول انسان خیرکارونو ته تیاروی ،اوددي داداء کولوپه وجه د ناکاره کارونو دواعي او ګناهونه ختميږي .
۲۰) کله چه د الله تعالی د حُرُماتو(عزت مندو شیانو) بي عزتي کيږي نو بیا لمونځ د ایماندار په زړه کښي د غیرت اور بلوي .
۲۱) په لمونځ باندي پابندي کوونکی د فتنو په وخت کښي په اسلامي دین باندي ثابت پاتي کيږي .
۲۲) د لمونځ اداءکولو په وجه د نفس د ډيرو مرضونو دواء کيږي ، لکه شومتیا،

حسد اوکينه ، حرص ، او تکليف او مصيبت لري کول او يا داسي نور شيان .
۲۳) په لمونځ کولو کښي د ډاکټري اصولو فايدي : په لمونځ کولو کښي د بدن فايدي دا دي چه دا د بدن ډير اندامونه قوي کوي ، د دي د اداء کولو په وجه د انسان د ګيډي دردونه ختميږي ، ځکه لمونځ د بدن او نفس دواړو لپاره ورزش دی ، ځکه دا په ډيرو حرکتونو مشتمل دی .